بسم الله الرحمن الرحیم

# د سولې خیال: د افغانستان د سولې په خبرو اترو کې د ترکیې رول




د پاکستان لومړی وزیر عمران خان د ترکیې له ولسمشر رجب طیب اردوغان سره د وران میلادي کال د جنوري په څلورمه نېټه د جمعې په ورځ لیدنه وکړه. په دې لیدنه کې، اردوغان په راتلونکو میاشتو کې د افغانستان، پاکستان او ترکیې تر منځ له یوې درې اړخیزې ناستې د جوړېدو څخه خبر ورکړ. همداسې ځینې رپورټونه په ډاګه کوي چې د پاکستان او ترکیې تر منځ نظامي اړیکې په وروستیو کلونو کې زیاتې شوې دي.

ترکیې ته د عمران خان سفر داسې مهال تر سره کیږي چې له طالبانو سره د سولې خبرې اترې د افغانستان د سولې لپاره د امریکا ځانګړي استازي زلمي خلیلزاد لخوا مخته وړل کېږي. د ۲۰۱۸ ز کال د ډسمبر پر ۱۷مه زلمي خلیلزاد له عربي متحده ایالاتو، سعودي عربستان او پاکستان سره یو ځای په ابوظبی کې د طالبانو له استازو سره خبرې اترې وکړې. د ځینو رپورټونو له مخې د آی اس آی نوی رئیس عاصم منیر هم په دې ناسته کې ګډون درلود. په حقیقت کې د پاکستان حکومت په ناسته کې د طالبانو د نظامي استازو د شتون منځګړیتوب هم کړی دی.

له طالبانو سره د سولې خبرې اترې ډېرې محرمې ساتل شوې تر دې چې لا د خبرو اترو یو انځور یا ویډیو په رسنیو کې نشته. د ابوظبی په ناسته کې افغان استازو د طالبانو له استازو سره د لیدو په هیله په دهلیزونو کې ډېر ساعتونه منتظر پاته شول، مګر طالبانو د افغان دولت له استازو سره دا لیدنه رد کړه.

اوسنی اوضاع ته په دقیقه توګه له کتو سره داسې جوتیږي چې امریکا له طالبانو سره تر درې ځلو لیدو وروسته بیا هم کومه د پام وړ پایله نه ده تر لاسه کړې. له دې امله امریکا، پاکستان د یوه بنسټیز رول لوبوونکي په توګه چې د سولې

په لړۍ کې بنسټيز رول لوبولی شي بولي او د سولې خبرې اترې چې په هر قيمت کيږي هغې پايلې ته چې امريکا يې غواړي ورسوي. له دې امله د ابوظبۍ له ناستې وروسته، امريکا نهه بيليونه ډالر پاکستان ته د سياسي بډې په توګه وعده ورکړل شوه، چې شپږ بيليونه ډالر يې د سعودي عربستان لخوا او نور درې بيليونه ډالر يې د عربي اماراتو لخوا پاکستان ته ورکول کيږي.

افغان حکومت په دې ښه پوهيږي چې څه لوبه روانه ده او پوهيږي چې په دې لړۍ کې د يوه بې کاره برخې ته بدل شوی دی، له همدې امله له ابوظبۍ ناستې وروسته، د افغانستان د ملي امنيت شورا دفتر د يوې مطبوعاتي اعلاميې له لارې دا په ډاګه کړه چې پرته له افغان حکومت څخه نور هېڅوک د افغان سولې د خبرو اترو په هکله د تصميم حق نه لري. دا جوته خبره ده چې د سولې خبرو اترو لپاره اجنډا او عملي پلان د امريکا په مشرۍ د پاکستان لخوا جوړيږي.

د دې لپاره چې امريکا بېړه لري چې له طالبانو سره د سولې خبرو اترو کې يوې پايلې ته وسيږي، له پاکستان سره د معاملې لپاره چمتو شوې، ځکه چې پاکستان دا وړتيا لري چې دا پرګرام په مخ بوځي، څرنګه چې په ۲۰۰۱ کال کې پاکستاني حکومت يو شمېر طالبان له امريکايانو سره معامله کړل او همداسې له کراچۍ بندر څخه د ناټو او امريکايي ځواکونو ته د تېرېدو د اجازې ورکولو په وسيله امريکا ته يې د افغانستان د ښکېلاک لار هواره کړه. ترکيې ته د عمران خان سفر د امريکا او پاکستان له مخکې پروګرام شوې اجنډا يوه برخه ده چې د هغې پر بنسټ به د پاکستان لوړ پوړي چارواکي په نږدې راتلونکې کې د سيمې هېوادونو ته ډېر زيات سفرونه ولري چې د هغوی تخنيکي او سياسي مرستې تر لاسه کړي.

له بله پلوه پاکستاني چارواکي د سيمې هېوادونو ديپلوماتيک سفرونه د دې لپاره کوي دي چې له دې ډاډ ورکړل شي چې د امريکا او پاکستان تر منځ د سولې د خبرو اترو په هکله هوکړې د سيمې هېوادونو ګټو ته کوم تاوان نه رسوي.

په حقيقت کې روانه لړۍ چې د سولې خبرې اترې نومول شوې يوه امريکايي لړۍ ده چې پکې امريکا مرکزي رول لوبوي او نور لوبغاړي يې د سيمې هېوادونه لکه پاکستان، سعودي عربستان، ازبکستان، قطر، متحده عربي امارت او ترکيه دي. له دې امله په داسې حالت کې داسې نه معلوميږي چې امريکا دې ترکيه په فعاله توګه په دې مسله کې ښکېل کړي ليکن د هغې سياسي او تخنيکي مرستې به د يوه ملاتړ کوونکي په توګه د افغانستان د سولې په خبرو اترو کې تر لاسه کوي. همداسې ترکيه هغه اغېزه پر طالبانو نه لري چې پاکستان، ايران او روسيه يې لري.

له بله پلوه دا هم بايد له ياده ونه ايستل شي چې ترکيه په منځني ختيځ او منځنۍ اسيا کې د امريکا د استعماري اجنډا په پلي کولو ښکېله ده، له دې امله امريکا له ترکيې پرته نور سياسي لوبغاړي لري چې په افغانستان کې خپل استعماري او غربي اجنډا په ښه توګه پلي کړي. هو امريکا د سوريې او عراق په موضوع کې ترکيه وکاروله، ليکن

ترکیه په افغانستان کې هماغه پایله نشي درلودلای. ځکه افغانستان او ترکیه ډېر لږ دوه اړخیزې او ګډې سیاسي اړیکې لري، له همدې امله به ترکیه د افغانستان د سولې خبرو اترو کې کوم ښه رول ونشي لوبولی.

**مسلم بغلانی**